درویش وردک

۲۷ اپریل ۲۰۱۶

## دوولسم مجلس (غیرله خدایه، دبل څخه نه غوښتل)

شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) د ۵۴۵ هجری قمری کال د ذی القعدی په دوهمه په مدرسه کی داسی وفرمایل:

(ای دخدای بنده) ستا ارادت دحق عزّوجلّ پروړاندی ثابت ندی. ځکه هرڅوک چی خدای ته دارادت درلودلو ادعاکوی اودغیرله خدایه طالب وی، ادعایی باطله دی. ددینا مریدان ډیردی ولی دآخرت اندک. دحق مریدان ریښتیا ویوونکی دی چی په نهایت کی ډیرلږ اودکبریت احمر په څیر نایابه اونادر دی. دوی ددنیا ارزښتناکه خزانه داران اوددوی چاروکی دی. ددوی دوجود په واسطه دخلکو څخه بلاوی لیری کیږی. ددوی په برکت باران اوری اوګیاوی شنی کیږی.

دوی دکارپه لومړیو کی له خلکو په تیښته دی، له یوی لوړی بلی لوړی اوله یوه ښاره بل ښارته، له یوی ړنګی بلی ړنګی ته په تیښته دی. هرځای چی وپیژندل شی له هغه ځایه کډه کوی. دژوندانه ټول ظواهریی شاته غورځولی. اوددینا ټولی خزانی ددوی اهل ته ورسپاری. تل په همدی حالت کی دی، ترڅوچی یی په شاه اوخوا دخویشتنداری یوه پخه کلا جوړه شی، او دحقیقت ویالی یی په زړونو کی په بهیدوشی، شاه اوخوایی دجنود الحق لښکری راچاپیره کیږی. چی هریو له دی لښکرو دده په ساتنه اوحراست اوبزرګداشت کی دنده لری. اوخلکو ته له اعتنا یی راګرځوی. داټول مواهب دظاهری عقل څخه ایخوا دی. پدی وخت کی ددوی دنده چی خلکو ته له خدمت څخه عبارت ده پیل کیږی. دتکړه رنځپوهانو په شان په ناروغه تولنه کی راڅرګند کیږی، اودخلکو دروحی ناروغیو په درملنه لګیا کیږی.

حیرانی ده ! ته هم ادعاکوی چی ددوی له ډلی یی! ددی ادعا نښه څه ده؟ دحق دقرب علامت کوم دی؟ دعزّ وجلّ خدای پروړاندی په کومه پایګاه کی یی؟ نوم اونښان دی په ملکُوت اعلاء کی څه دی؟ ولی هره شپه دنیاز دروازی دی پرمخ ترلی؟ خوراک اوڅښاک دی حلال دی؟ ددنیا په بسترکی هوسا یی اوکه دحق دقرب ترڅنګ؟ ستا همناستی اومونس څوک دی؟ په یوازیتوب کی له چاسره همدمه یی؟ په خلوت کی له چا سره همنشین یی؟

ای دروغجنه، ستا انیس په یوازیتوب کی ستا نفس اودرونی شهوات دی، اوددنیا اندیښنه اوتفکر. اوپه ظاهرکی دی شیاطین الانس چی هماغه ستا نابابه دوستان دی، ستا همناستی اوخپل دی.

دتقوی ادعا یوازی په ویلودملو وړنده، پرتالازمه ده چی دحق جلّ وعلّا پروړاندی چُپ اوسی اوباادبه وی. اوکه خوله په ویلو خلاصوی نوباید دخدای ذکروی. هغه ذکرچی دزړه له تل څخه یی سرچینه اخیستی، نه په ژبه اودزړه دحضورپرته. هره ظاهری خبره چی دزړه دموافقت اومطابقت ورسره مل نه وی بی ځایه اوپریشانوونکی خبری دی.

آیا درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) قول دی ندی اوریدلی چی فرمایی: (مَاصَامَ مَنْ ظَلَّ یَأکُلُ لُحُومَ النَّاسِ) -«روژه نیوونکی ندی هغه څوک چی تل دخلکو غوښی خوری».ژغورل شوی خلک هیڅکله له هغه سره نه روږدی کیږی.
هرڅوک چی په غیبت مشهوره شی، دخلکوپروړاندی یی ارزښت راټیټیږی. دشهوت آمیزه کتلو څخه ډډه وکړه، ځکه شهوانی کتل دګناه تخم په زړه کی کری. اوددی خلکو عاقبت په دنیا اوآخرت کی کرغیرن دی. په درواغو له سوګند خوړولو ډډه وکړه، ځکه په درواغو سوګند خوړل دآبادیو دورانی سبب ګرزی اوله دین اودینا څخه برکت وړی.
وای پرتا! غواړی خپل کالی چی درسره دی ددرواغو په سوګند خلکو ته ښکلی وښیی؟ داکارددین دخُسران سبب ګرزی. که پوهه ولری نو له دی کاره لاس په سرشه. ته په دروغو وایی چی پدی ښارکی داسی کالی نشته، اودچاپه اختیارکی نشته. اوپه خدای سوګند خوری چی داکالی دفلانی دکالیو سره برابری کوی، په درواغو شهادت ورکوی اوسوګند یادوی چی په خبروکی ریښتینی یی، ډیرژربه دبصیرت ړوندوالی اوتولنیزننګ ستا لمنه ونیسی.
دخدای عزّ وجلّ پروړاندی دادب رعایت وکړی. ځکه هرچا چی دشرعی دحدودو ادب پرځای نکړ، دقیامت په ورځ به دی سوزونکی اورتأدیب کړی. چا ویوښتل: چی په چا کی داکرغیرن صفات شتون لری، ترڅویی دلمانځه اوروژی دبطلان حکم ورکړل شی، وویل شول لمونځ اوروژه یی باطل ندی، ولی دایادون دپند اخیستلو اوله ګناهونو څخه دویری لپاره ویل شوی.
(ای دخدای بنده) شاید سباداسی راشی چی دځمکی پرمخ به نه وی اوځای به دی قبروی، یاشاید یوساعت وروسته دغه کارترسره شی، داغفلت دڅه لپاره دی؟ ولی مو زړونه داسی سخت دی، که له ډبرو جوړ شوی؟ زه تاسو ته نصیحت کوم اونوریی هم اوری، ولی تاسو پخپلو ځانوکی هیڅ بدلون نه ترلاسه کوی.
دقرآن تلاوت درته کیږی، درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) احادیث درته لوستل کیږی،اودی تیرو سیراوکړه درته بیانیږی، ولی تاسو عبرت نه اخلی. اوله خپلو ناوړو کړو څخه نه لیری کیږی اوپه ځان کی بدلون نه راولی، هرڅوک چی کوم ځای(کور) ته ننوت اوهلته واعظ په وعظ لګیا و، ولی ده پند وانه خیست، هغه کوربهترین مکان اودی بدترین اوسیدونکی دهغه کوردی.
(ای دخدای بنده) داولیاء الله خوارګنل ستا ناپوهی ده له عزّ وجلّ خدای څخه. وایی: او دوی تورنوی چی ولی زمونږ سره نه اوسی؟ ولی دوی زمونږسره نه کښینی؟ داستاناپوهی ده دخپل ځان اوخپل ځای په پیژندنه کی. ځکه هرچا چی خپل ځای اومنزلت ونه پیژانده، دنوروپه قدرهم نه پوهیږی. دنیا اودهغی راتلونکی ښه نه پیژنی، نوځکه دآخرت په قدرهم نه پوهیږی، اوپه پایله کی دخدای له پیژندګلوی څخه هیڅ برخه نلری.
ای چی دنیا اوظواهرویی غولولی یی اوپه ځان یی بخوت کړی یی، ډیرژربه په دنیا اوآخرت کی ددی فریفتګی له خُسران سره مخ شی ، دقیامت ورځ دتغا بن اوافسوس ورځ ده، د رسوایی اوپښیمانی ورځ ده. مخکی له دی چی په قیامت کی ترپوښتنی لاندی راشی، دخپل نفس سره حساب وکړه. دخدای عزّ وجلّ حلم تا مغرور نکړی، دخدای کرم اوبزرګواری ،تاباید دګناهونو پرکړنو جسور نکړی.تل پرګناه اوپرخلکوپه ظلم ولاړ یی، ولی پوه شه چی ګناوی اومعاصی دکفراوبی ایمانی استاذی دی، همدارنګه چی تبه دمرګ استاذی(قاصد)ده. پرتالازمه ده مخکی له دی چی مرګ درپسی راشی اودمرګ فرشته دی پربالښت تکیه وکړی، ژرسمی لاری ته راشه اوتوبه وباسه.
(ای ځوانانو) توبه وکړی. خدای به تاسوپه رنځ اوګرفتاری سره وآزمایی ترڅو توبه وکړی، ولی تاسو سم فکرنه کوی، اوپرګناه ټینګارکوی. البته له څوپه شمارخلکونه پرته په دی زمانه کی څوک نه آزمایل کیږی.
درواغ رنځ دی نه نعمت، ګناه دمقام اومنزل دلوړوالی سبب نه ګرزی، دادخواصو ډله ده چی ترآزمایش لاندی راځی، ترڅوچی په پایله کی دمقام رفعت اولوړوالی ترلاسه کوی. دوی پربلاو اومصائبو صبرکوی، ځکه چی دحق

ددیدار غوښتونکی دی. هرکله یی چی دامرحله پای ته ورسوله، معنوی فرمانروایی ورته مسلمه کیږی، اوکه یی توفیق حاصل نکړ، نو معتقد کیږی چی په هلاکت کی لویدلی.

لویه خدایه مونږ ددی هلاک څخه وژغوره. له تاڅخه په دنیا اوآخرت کی ستاقرب اود دیدارعطا غواړو، په دنیا کی دباطن په سترګو اوپه آخرت کی دظاهر په سترګو.

(یاقومه) دالهی بخښنی څخه مه ناامیده کیږی، هغه تربل هرڅا خپلو بنده ګانو ته نیږدی دی، دی دټولو کائناتو پیداکوونکی دی: (لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللہَ یُحْدِثُ بَعْدَ ذالِکَ)-«نه پو هیږی، ښایی خدای وروسته له دی په بل امر اراده وفرمائی. سوره طلاق آیه ۱»

له بلاڅخه مه تښته، ځکه بلا له صبر سره دټولو نیکیو بنسټ دی. دنبوت ،ولایت اودحق دمعرفت بنسټ، بلادصبرسره. ولی که دبلا پروخت صبراوشکیبایی ونلری، پوه شه چی دکوم بیخ اوبنسټ خاوند نه یی، اوڅرګنده ده هغه مانی چی بنسټ اوپایه ونلری، لویږی. آیاکله دی لیدلی چی کوم کوربی بنسټه جوړشوی وی اوتاب یی راوړی وی؟ پس دبلا اوصبرڅخه لیری والی مه کوه، ترڅودی دایمان دکوربنسټ پوخ شی. شکیبا اونیک کرداره اوسه، ترڅودی زړه اوروح دحق دقرب له درګاه سره آشنا شی.

علما اواولیاء اوابدال دانبیاءُ وارثان اودخدای اوخلکو ترمنځ واسطه دی، علما اواولیاء ددوی داعیان دی. اوهغه عجیب ځواک چی په زړونو کی لری. متعال خدای فرمایی:( وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَیْنَ الْاَخْیارِ)-« دوی زمونږپرواړاندی غوره شوی نیکو کاران دی. سوره ص. آیه ۴۷». دخپلی زمانی پراهل یی غوره شوی، اوهرځای چی ګام ایږدی، ترپښولاندی یی بوټی شنه کیږی.(ترپښتولاندی دبوټوشنه کیدل، دوجود دبرکت څخه کنایه ده)، له تنهایی سره اُنس اخلی، خلوتی اوتنهاځایونو لکه : ویرانی، درود غاړی اودښتواوبیابانونه داوسیدولپاره غوره کوی. دصحرایی ګیاهانونه خوراک کوی اوله چینو څخه یی اوبه څښی، له حیواناتو سره انس اخلی، ددی قوم بنسټ دمرسلینواوشهداوو په څیردی. شپه اوورځ په ټول وخت کی په خلوت اوجلوت کی دالهی اقدس ذات مشتاق وی.

(ای دخدای بنده) له شیرنی اوتلخی، صلاح اوفساد، تیاری اورڼا څخه چاره نشته، که دکاملی صفا غوښتونکی یی نو دزړه له کومی له مخلوق سره پریکړون وکړه اوله خالق سره وصل شه، ددنیا ظواهر پریږده اوعزّ وجلّ خدای ته تسلیم شه. زړه دمادیاتو له علایقو تش کړه، دآخرت کورته نیږدی شه اوهغه ته وردننه شه. اوکه دی هلته هم خدای پیدانکړنوتری ووزه، په تیښته اودحق په لټه. هرکله که دهغه پیداکړنوټولی رڼاوی اوصفاوی دی پیداکړی. دحق رینښتینی دوستداران لدی پرته نورکړه نلری.

فانی دنیا دبهشت په باقی نعیم وپلوره. متعال خدای فرمایی: (وَفِیْهَا مَا تَشْتَهِیْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْیُنُ)-« هرڅه چی زړه وغواړی اوسترګی پری مړی شی، هلته شته.سوره زخرف آیه ۷۱».

هرکله که لوی خدای اراده وفرمایی، ددوی زړونه، دغیرلپاره ددوی دژبی په څیرګرځوی. خدای دغه دځله خاص دځان ګرځولی اودوی دځان غوره شوی بولی، همداسی چی یی دحضرت موسی علیه السّلام په هکله فرمایلی: (وَاصْطَنَعْتُکَ لِنَفْسِی، لَیْسَ کَمِثْلِهِ شَیْئٌ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ)-« ته می دځان لپاره غوره کړی یی، هیڅ شی دده غوندی ندی، دی اوریدونکی اولیدونکی دی. سوره شوری آیه ۱۱».

ددوی لپاره یی، هوساینه پرته له رنځه، انس پرته له ډاره، نعمت پرته له زواله، خوښی پرته له کدورته، شیرینی پرته له تلخی اوفرمانروایی پرته له زواله مقرره ده،( هُنَالِکَ الْوَلَایَةُ لِلّٰہِ الْحَقِّ)هرڅوک چی دی مقام ته ورسید ددواړو نړیو هوساینه اوآرامش به ورته مخ کړی. ولی هغه څه چی تازړه پری تړلی دنیاده. اودنیا دهوساینی ځای ندی بلکه دتیارو

اوآفاتوځای دی. اوپه ناچاره به تری وزو. پس لازمه ده چی دنیا دوستی له زړه وباسی اوکه په دی ونه توانیدی لږترلږه خوعلاقه ورسره کمه کړه.
مسکینان دحق ځیره خواره دی، پرتا لازمه چی دفقر اوغنا پروخت ددوی مرسته وکړی. زړه دبدلون په حال کی دی، اوکه غواړی دصفا په لاره کی بدل شی، لازمه ده دعلم په زده کړه اوپرهغی په عمل کولو لاس پوری کړی اوپه اخلاص ودریږی.
(ای دخدای بنده) آیا اوریدلی ددی چی وایی: زده یی کړه اویوازی توب غوره کړه، یعنی لومړی ظاهری علم زده کړه اوبیا په باطنی علم لاس پوری کړه.په ظاهری علم عمل وکړه، ترڅودخدای دمعرفت پیژندنی علم ته هدایت کړی. ظاهری علم ظاهری رناده، اوباطنی علمی دباطن روښانونکی دی. داستا اوخدای پاک ترمنځ وسیله ده..
هرکله که دی پخپل علم عمل وکړ، خدای ته دی ورنیږدی کوی، اودهغه دالطاف ورونه درته پرانیزی، دقرب خاص ورپرانیستل کیږی.
**«رَبَّنا آتِنا فِی الدَّنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**